# د پناه غوښتونکو لپاره بدلونونه

د بلجیم نوی فدرالي حکومت د ۲۰۲۵ کال د جنوری په ۳۱مه خپل کار پیل کړ. دغه حکومت د کډوالۍ او پناه غوښتنې په اړه نوي قوانین وړاندیز کړي دي. د رسنیو له لارې حکومت اعلان کړی چې غواړي د پناه غوښتنې او کډوالۍ لپاره سخت شرایط رامنځته کړي. که تاسو تازه بلجیم ته راغلي یاست، نو دا بدلونونه ممکن تاسو ته اندېښنه پیدا کړي.
دا بروشر د دې پلانونو د تشریح او د دوی د اغېزو د روښانه کولو لپاره چمتو شوی دی.

## د حکومت د پلانونو مفهوم څه دی؟

مهمه ده چې پوه شئ د حکومت توافق یوازې د راتلونکي پلانونه څرګندوي، خو دا قوانین لا نه دي نافذ شوي. د تطبیق لپاره، دا پلانونه باید د قوانینو بڼه واخلي، چې ممکن څو میاشتې یا حتی کلونه وخت ونیسي.

که د دې بروشر تر لوستلو وروسته تاسو پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ زموږ د معلوماتو کرښې (ټلیفون، واټساپ، ټیلیګرام، یا ایمیل) له لارې موږ سره اړیکه ونیسئ:
https://vluchtelingenwerk.be/infolijn
**همدارنګ، تاسو کولی شئ له خپل وکیل سره هم مشوره وکړئ**

## د پناه غوښتونکو لپاره بدلونونه

- د پناه غوښتنې سخت شرایط: حکومت غواړي د پناه غوښتنې پروسه سخت کړي. پناه غوښتونکي به مجبور وي خپل الیکترونیکي وسایل (لکه موبایل او لپټاپ) تسلیم کړي، څو د دوی د معلوماتو د صحت ارزونه وشي.
- د څو ځله پناه غوښتنې محدودیت: حکومت نه غواړي چې خلک په بلجیم یا نورو اروپايي هیوادونو کې بیا بیا پناه وغواړي. په راتلونکي کې، که څوک څو ځله پناه غوښتنه وکړي، دوی ته سرپناه نه ورکول کېږي.
- د استیناف نیولو لنډ مهلت: که څوک د منفي پرېکړې خلاف اپیل کوي، دا به د جبري بېرته ستنېدو پروسه نه دروي. دا پدې مانا ده چې تاسو باید د خپل بېرته ستنېدو لپاره همکاري وکړئ، حتی که لا هم د پرېکړې په انتظار یاست.
- د زیانمنو پناه غوښتونکو ته لومړیتوب: تر هغه وخته چې د استوګنې بحران حل شي، یوازې زیانمنو پناه غوښتونکو ته به لومړیتوب ورکول کېږي. دا پدې معنی ده چې مجرد نارینه به لا هم د انتظار لیست ته اچول کېږي، او د پناه غوښتنې په ورځ به سرپناه نه ورکول کېږي.
- د استوګنې مرکزونو کمښت: د پناه غوښتونکو د شمیر کمېدو سره به استوګنځایونه بند شي. د شخصي استوګنځایونو او هوټلونو عاجله استوګنه به له منځه ولاړه شي. یوازې د خوراک او استوګنې فزیکي مرستې به ورکول کېږي، او نور به جیب خرڅ نه ورکول کېږي.

---

## د اقامت لرونکو کسانو لپاره بدلونونه

- دولت غواړي د موقتي اقامت اسناد (فرعي ساتنه) زیات ورکړي. دا حیثیت د پناهندګۍ له حیثیت څخه کم حقوق لري **او** د کورنۍ د یو ځای کېدو پروسه به سخته کړي.
- د رسمي پناه غوښتونکو لپاره:
- د پناهندګۍ تر ترلاسه کولو وروسته، تاسو شپږ میاشتې وخت لرئ چې د کورنۍ د یوځای کېدو غوښتنه وکړئ، پرته له دې چې د عاید او استوګنځای شرط پوره کړئ.
- د ټولنیزو مرستو ترلاسه کولو لپاره باید د ادغام (Integration) کورس ترسره کړئ.
- د فرعي ساتنې لاندې کسانو لپاره:
- دوی باید دوه کاله انتظار وکړي، مخکې له دې چې د کورنۍ د یوځای کېدو غوښتنه وکړي.
- د کورنۍ د یوځای کېدو لپاره، لږترلږه عاید ۲۲۲۷ یورو دی، او ۲۲۸ یورو د هر ماشوم لپاره.
- دا شرط د بې سرپرسته کوچنیانو لپاره نه تطبیقېږي.
- دواړه، هم په بلجیم کې او هم د کورنۍ غړي په اصلي هیواد کې، باید د ژبې او تابعیت ازموینه ورکړي.
- د ټولنیزو مرستو محدودیت:
- د فرعي یا موقتي ساتنې لرونکي کسان به د پنځو کلونو لپاره ټولنیزو مرستو ته لاسرسی ونه لري.
- د ټولنیزو مرستو بله بڼه به ورکړل شي، خو دا مرستې به د ادغام له هڅو سره تړلې وي.

- 
- د B کارت ترلاسه کول سخت شوي:
  - ✓ د ژبې او تابعیت ازموینه باید تېر کړئ.
  - ✓ هغه شرایط باید پوره کړئ، چې د A کارت اخیستو پر مهال موجود و.
  - ✓ د عامه امنیت یا ملي امنیت ته خطر نه جوړوئ.
  - ✓ د کارت لپاره فیس ورکړئ.
  - ✓ ځان بسیا اوسئ او ټولنیزې مرستې مه ترلاسه کوئ.
- د بلجیم تابعیت ترلاسه کول سخت شوي:
- د تابعیت فیس ۱۰۰۰ یورو دی.
- د ژبې او تابعیت ازموینه باید تېر کړئ.

---

## د اسنادو نه لرونکو کډوالو لپاره بدلونونه

- هیڅ عمومي قانوني حیثیت نه ورکول کېږي: د غیر قانوني کډوالو د قانوني کولو لپاره کومه عمومي پروسه نشته. یوازې د مهاجرت اداره به په ځانګړو مواردو کې اقامت ورکولی شي.
- د بیرته ستنیدو قرارداد: هغه کسان چې د بلجیم د پرېښودو امر ترلاسه کوي، باید د بیرته ستنیدو سند لاسلیک کړي، چې دا هغوی د جبري ستنیدو سره مل کوي. که چیرې سمدستي بیرته ستنیدل ممکن نه وي، نو دوی باید په منظمه توګه د مقاماتو سره راجستر شي.
- نیول کېدل: هغه کسان چې د بیرته ستنیدو قرارداد نه مراعتوي، ممکن ونیول شي او د بندي مرکزونو ته انتقال شي.
- د کورنیو لپاره استثنا: د راتلونکو دوو کلونو لپاره، د ماشومانو لرونکي کورنۍ به نه نیول کېږي.
- د پولیسو لخوا د کورونو تلاشي: په ځینو مواردو کې، پولیس کولی شي ستاسو کور ته ننوځي، خو دا یواځې هغه وخت امکان لري چې تاسو د عامه یا ملي امنیت لپاره خطر وګڼل شئ او قاضي يې اجازه ورکړي.
- د بیړنیو طبي خدماتو محدودیت: دولت به پر ډاکترانو او روغتونونو فشار راوړي، خو د بیړني طبي خدمتونو اساسي حق به لاهم موجود وي. شاید ځینې طبي لګښتونه چې اوس بېرته تادیه کېږي، نور ستاسو پر غاړه وي.